# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د مارچ لومړۍ | ۶۸۸یمه ګڼه


## کاروبار

۴ مخ

### بنتلي

بنتلي د موټر جوړونې برېتانوي شرکت دی. دغه شرکت تر ډېره لوکس او د خلکو د پام وړ موټرونه تولیدوي. موټرونه یې ګران بیه او لوکس دي او تر ډېره یې شتمن خلک کاروي.




# د دوحې هوکړې یو کلن مزل؛

## افغان حکومت: دې هوکړې افغانانو ته نه، بلکې امریکایانو ته ګټه وکړه





۳


د دوحې له هوکړې یو کال وروسته — ۲ مخ

د ترکیې او افغانستان د ډیپلوماتیکو اړیکو سلمه کلیزه — ۲ مخ

د چین د دوو مجلسونو د ۲۰۲۱ کال کلنۍ غونډې به ژر پرانیستل — ۳ مخ


## د کلیو د پراختیا وزارت: په جوزجان کې د ۲۱.۴ میلیونو افغانیو په لګښت پراختیایي پروژې بشپړې شوې



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت وایي، چې په جوزجان کې د ۲۱.۴ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۱۴ پراختیایي پروژو کارونه بشپړ شوي دي.
د یاد وزارت ویاند محمد رفیق جنبش ویلي، چې د دغو پراختیایي پروژو په پلي کېدو سره سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
نوموړي زیاته کړې، چې په دغو پروژو کې د ۶.۴۵ کیلومتره ښاري برېښنا د شبکې غځول، ۴.۱ کیلومتره د اوبو رسولو یوه شبکه، ۲۶ د اوبو ویشونکي، د څښاک د اوبو اووه څاه ګانو کیندل شامل دي. د یاد وزارت مسوولین وایي چې له دغو پروژو ۴۳۲۸ کورنۍ برخمنې شوې دي. د وزارت ویاند وایي، چې د ۲.۱ متره استنادي دېوال جوړول، د ۸.۲ کیلومتره درېیمې درجې سړک جوړول، د برېښنا د دوو ترانسفرمرونو لګول او د څښاک د اوبو د دوو زېرمو جوړول هم په دې پروژې کې شامل دي.

## عامې روغتیا وزارت: چین له افغانستان سره څلور سوه زره ډوزه د کرونا ضد واکسین مرسته کوي

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت وایي، چې چین له افغانستان سره د څلور سوه زره ډوزه واکسینو مرستې ژمنه کړې ده.
د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، په کابل کې د چین سفیر وانګ یو د عامې روغتیا وزارت له سرپرست وحید مجروح سره په لیدنه کې ویلي، چې هېواد به یې ډېر ژر له افغانستان د کرونا ضد واکسین مرسته وکړي. یاد وزارت وایي، چې چین څه موده وړاندې له افغانستان سره د دوه سوه زره ډوزه کرونا واکسین مرستې ژمنه کړې وه، خو د روغتیا وزارت په غوښتنه یې دغه شمېر څلور سوه زرو ته لوړ کړی دی. د دغه وزارت په خبره، وانګ یو ټینګار کړی، چې هېواد به یې له افغانستان سره خپلو هر اړخیزو مرستو ته دوام ورکړي. د سرچینې په خبره، د عامې روغتیا وزارت سرپرست د چین له دغې مرستې د مننې ترڅنګ له یاد هېواد څخه غوښتي چې په دې برخه له افغانستان سره خپلې همکارۍ په دوامداره توګه وساتي.
په افغانستان کې د چین سفیر د همکاریو پر دوام ټینګار کړی او زیاته یې کړې یې ده چې د کرونا ویروس بحران د جمهوریت روغتون د طبي وسایلو په فعالولو کې د دغه هېواد همکارۍ وځنډولې او د کرونا له کبله د رامنځته شوي وضعیت له نورمالېدو سره سم به په دې برخه کې د دوی د همکاریو بهیر بېرته پیل شي.

## سیګار: په افغانستان کې د امریکا نږدې دوه نیم میلیارده ډالره بې ګټې لګول شوي



۵ مخ

## رحمانی: به‌علت افزایش خشونت‌ها و آماده‌گی طالبان به جنگ، امیدواری به صلح ازبین رفته‌است





میر رحمان رحمانی، رئیس ولسی جرگه که به تاجیکستان رفته‌است، در سخنرانی‌اش در میان مهاجران افغان در این کشور، گفت به‌علت افزایش خشونت‌ها و آماده‌گی طالبان به جنگ، امیدواری به صلح با طالبان ازبین رفته‌است.
آقای رحمانی تأکید کرد با آن‌که طالبان هیچ طرحی به صلح ندارند اما مردم افغانستان، به‌گفته او، اجازه فروپاشی نظام و از دست رفتن ارزش‌های بدست آمده دو دهه گذشته را نمی‌دهند.
او افزود: «انتظار این بود که صلح در افغانستان تأمین شود، اما متأسفانه ما تاکنون در این باره متیقین نیستیم؛ اما حکومت افغانستان آمادهٔ هرنوع مذاکره با حفظ نظام است.»
از سوی دیگر، ظاهر اغبر، سفیر افغانستان در تاجیکستان می‌گوید که هراس‌افگنی تولید افغانستان نیست و طالبان برخلاف خواست جوامع اسلامی به خشونت‌ها ادامه می‌دهند: «باز افغانستان را به‌سوی تجزیه نبریم. باز اجازه ندهیم که افراد و اشخاص بی سواد برای ما مسیر تعیین کند و باز اجازه ندهیم که برای ما فتوا صادر کنند که نماز جنازه سرباز ما خوانده نشود.»
آقای رحمانی در سخنرانی دیروزش در دوشنبه، هدف از سفرش به تاجیکستان را تلاش برای جلب همکاری‌های بیشتر این کشور به روند صلح و پیکار با هراس‌افگنی عنوان کرد: «سطح خشونت و جنگ در افغانستان هر روز در حال افزایش است. طالبان هیچ برنامه و هیچ طرحی برای صلح ندارند.»


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د دوحې له هوکړې یو کال وروسته

د طالبانو او امریکا ترمنځ له اتلسو میاشتو پټو او پېچلو خبرو وروسته دواړو لورو پوره یو کال وړاندې په دوحه کې هوکړه وکړه. د دې هوکړې له مخې، به طالبانو اجازه نه ورکوله چې د افغانستان خاوره د امریکا پر ضد وکارول شي او امریکا به خپل ځواکونه په څوارلسو میاشتو کې له افغانستان څخه وباسي. هوکړې نور جزیات هم درلودل، خو اساسي چاره پکې همدا وه.

اوس چې د هوکړې یو کال پوره شوی، نو په اړه یې قضاوت څه دی؟ هوکړه څومره عملي شوې؟ څومره یې سولې ته لاره برابره کړې؟ او بالاخره د دې هوکړې برخلیک څه دی؟

د امریکا او طالبانو هوکړه د دې سبب شوه، چې شاوخوا لس زره امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، خو لا هم امریکا او طالبان یو پر بل د هوکړې د نقض تورونه لګوي. امریکا وایي، طالبانو تاوتریخوالی نه دی کم کړی او له القاعدې سره یې اړیکې هم نه دي پرې کړې. طالبان بیا وایي چې امریکا د دوی بندیان نه دي خوشې کړي، مشران یې له تور لېسته نه دي ایستلي او وخت ناوخت یې بمباري هم کړې دي. خو دواړه لوري داسې ښیي چې هوکړه بیا هم تر ډېره عملي شوې ده.

طالبان او امریکایان دواړه تمایل نه لري چې د دوحې هوکړه لغوه کړي. طالبانو او امریکایانو پر هغه څه یوازې لفظي غبرګون ښودلی چې له هوکړې سرغړونه بلل شوې. طالبان چې دا هوکړه یوه ستره لاسته راوړنه ګڼي او آن د خپلې وسلهوالې جګړې د پایلې سره یې پرتله کوي، نه غواړي چې دا هوکړه لغوه شي او ان له دې امله د امریکا پر ډېر سرغړونو هم سترګې پټوي. د امریکا نوی حکومت بیا د هوکړې ارزونه پیل کړې، خو دا ارزونه هم یوازې د هوکړې د عملي کېدو په اړه ده، نه دا چې هوکړه سمه ده او که ناسمه. پر دې اساس دواړه اړخونه هوکړه نه لغوه کوي، خو لا هم هڅه کوي پر یو بل فشار راوړي، څو امتیازات تر لاسه کړي.

دې هوکړې امریکایان خوندي کړل، له هوکړې وروسته په افغانستان کې هیڅ امریکایی نه دی وژل شوی. د امریکا مالي لګښتونه را کم شوي او زرګونو امریکایانو ته د وتلو خوندي لاره برابره شوې ده. طالبانو هم ګټې کړې، هوایي بریدونه پرې کم شوي، مرګ ژوبله یې کمه شوې او پراخې سیاسي اړیکې یې جوړې کړې دي. د دوحې هوکړې تر ګردو لویه ستونزه دا ده چې لا یې هم جګړه نه ده درولې. دا چې په دې کې ملامت طالبان دي، که حکومت او یا هم امریکایان، جلا بحث دی، خو له هوکړې د افغانانو تمه دا وه چې دوی به خوندي شي. دا کار ونه شو او لا هم معلومه نه ده چې څه وخت به کېږي.

که د دوحې هوکړې پوره عملي کېږي او که نیمه، خو بین الافغاني خبرې باید جدي شي او پایله ولري. د سولې روانه پروسه باید د افغانوژنې دا ماشین ودروي. همدا د هر افغان غوښتنه ده او ټول افغاني اړخونه هم باید په همدې چاره تمرکز وکړي. له دې پرته به ښایي مختلف لوري ګټې وکړي، خو ولس بیا هم بایلونکی دی.

# د ترکیې او افغانستان د ډیپلوماتیکو اړیکو سلمه کلیزه



لیکنه: اوغوزخان ارطغرل
په افغانستان کې د ترکیې لوی سفیر



پرون د ترکیې او افغانستان تر منځ د ډیپلوماتیکو اړیکو د بنسټ ایښودلو سلمه کلیزه وه. افغانستان په دې ورځ د ۱۹۲۱ میلادي کال د مارچ په لومړۍ نېټه د یووالي د پیمان په لاسلیک کولو سره د انقرې حکومت په رسمیت پېژندلی دی. زه د انقرې د حکومت اصطلاح کاروم، ځکه چې ترکیه په ۱۹۲۳ کال کې جوړه شوې او له دې وړاندې کلونو کې په ازمایښتي ډول د اتاترک تر لارښوونې لاندې او د ترکیې د خلکو د ستر مجلس لخوا پر مخ وړل کېده، چې موږ هغه ته پارلماني حکومت یا د انقرې حکومت وایو.

هر کال په رسمي ډول د افغان او ترک د دوستۍ په نوم د مارچ د لومړۍ نېټې لمانځلو لپاره، د دواړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزارتونو لخوا د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر په ۲۴مه په استانبول کې هوکړه لیک لاسلیک شو.

دواړو لوریو ته یوه اخلاقي او تاریخي دنده ده چې د دې ازمایل شوې تړون، ارزښت او رښتینې مانا راتلونکو نسلونو ته ور زده کړي. سره له دې چې موږ د ډیپلوماتیکو اړیکو د رامنځ ته کولو له سلمې کلیزې څخه برخمن یو، خو دا اړیکې یوازې په تېرې پېړۍ پورې اړه نه لري. په دې سیمه کې د ترکانو لومړنی خوځښت له میلاد نه وړاندې دویمې پېړۍ ته ورګرځي، چې ترکان ساکا (ایسکیت) خپل دولت د افغانستان په شمالي سیمو کې جوړ کړ. په هغه پسې په پنځمه میلادي پېړۍ کې د ترکانو یوې بلې قبیلې په دې سیمه کې د (افتالیت) په نوم امپراتوري جوړه کړه، چې د بلخ، تخار، کابل، غزني، زابل او اوسني کندهار سیمې یې تر واک لاندې وې. افغانستان په لسمه پېړۍ کې د غزنویانو پر مهال، په یوولسمه پېړۍ کې د سلجوقیانو پر مهال او په دوولسمه پېړۍ کې د خوارزم شاهانو پر مهال د ترکانو لپاره پر مهم هستوګنځي بدل شوی و. په دیارلسمه پېړۍ کې افغانستان د مغلو تر واکمنۍ لاندې شو او د بابرشاه په دور کې ترکانو یوځل بیا په ۱۶مه او ۱۷مه پېړۍ کې په دې جغرافیه کې د پاتې کېدو پرېکړه وکړه.

د افغانانو او ترکانو ترمنځ ګډ ژوند په اتلسمه پېړۍ کې هم دوام درلود او احمدشاه ابدالي د عثماني خلافت له دریېم خلیفه سلطان مصطفی سره د لیک استولو له لارې اړیکې ټینګې کړې، همدارنګه د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې سلطان عبدالحمید یو ډیپلوماتیک هیئت کابل ته واستاوه. د شلمې پېړۍ په پیل کې د امیر حبیب الله خان حکومت د محمود طرزي په وړاندیز، د مختلو چارو لپاره له ترکیې څخه سلاکاران وبلل. د حیرانۍ ځای نه دی چې په ۱۹۱۲ کال کې د څو تنو دغو سلاکارانو پر مټ په کابل کې لومړنی دولتي روغتون جوړ شو.

د ۱۹۱۰مې لسیزې په وروستیو کې افغان زده کړیالان چې په اناتولي کې یې زده کړې کولې، د ترکیې د خپلواکۍ د اخیستلو له جګړې سره یو ځای او شهیدان شول. افغانانو ښځو هم د خپلو ارزښتمندو ګاڼو په ډالۍ کولو سره د ترکیې د خپلواکۍ د اخیستلو د جګړې له سپاهیانو سره خپله خواخوږي ښکاره کړه. په ۱۹۲۰ کال کې د عثماني امپراتورۍ یو غښتلی او اغیزناک رهبر جمال پاشا کابل ته راغی او دلته د اردو د رغونې په موخه تر یوه کاله وځنډېد. کله چې اتاترک د ترکیې د خپلواکۍ په جګړه کې ډېر بوخت و او هغه وخت افغانانو له بل هر وخته موږ ته اړتیا درلوده، نو افغانان یې له یاده ونه ایستل او د څو پرلهپسې هیئتونو له لېږلو یې چې له ډاکترانو، ښوونکو او افسرانو څخه جوړ و، ډډه ونه کړه.

د خپلواکۍ د بیرته اخیستلو جګړو چې د ۱۹۱۰مې لسیزو له وروستیو او د ۱۹۲۰ کال تر پیله یې دوام وکړ، دواړه ملتونه یې له زړه او ذهنه سره نږدې کړل. دواړو ملتونو په بشپړه توګه او پوره یووالي سره سره ورته غمونه او خوښۍ تجربه کړې. لکه څنګه چې غازي امان الله خان د ۱۹۲۲ کال د اکتوبر د لسمې په غونډه کې چې د ترکیې د خپلواکۍ د جګړې د ګټلو په پار په دلکشا ماڼۍ کې جوړه شوې وه، ویلي وو چې: «ترکان او افغانان سره وروڼه دي. د هغوی خوښي زموږ خوښي ده؛ د هغوی غم او ویر، زموږ غم او ویر دی.»

کوم لومړنی پرېکړه لیک چې د انقرې په حکومت کې ومنل شو، هغه په کابل کې د ډیپلوماتیکو اړیکو د نمایندګۍ پرانیستل و، چې پر دې بنسټ، یو افغاني الاصله ترکي افسر ښاغلی عبدالرحمن صمدان په ۱۹۲۰ کال کې د ترکیې د استازي په توګه په افغانستان کې وګمارل شو. دا په کابل کې د ترکیې د سفارت لومړنی ډیپلوماتیک ماموریت شو. ترکیه دویم هیواد و چې افغانستان یې په رسمیت وپېژانده. افغانستان هم دویم هیواد و چې د انقرې حکومت یې په رسمیت وپېژاند.

د ۱۹۲۱ کال د جون په لسمه د افغانستان سفارت په ترکیه کې پرانیستل شو او اتاترک په خپلو لاسونو د افغانستان بیرغ د سفارت پر سر پورته کړ. امان الله خان لومړنی بهرنی پادشاه و چې د ۱۹۲۸ کال د مې په میاشت کې یې ترکیې ته سفر وکړ. ترکیې په دې سفر کې د فني همکاریو لومړنی هوکړه لیک ورسره لاسلیک کړ. له افغانستان سره د ترکیې نږدې همکارۍ د دویمې نړیوالې جګړې تر پیلېدو پورې روانې وې. د افغانستان او ایران تر منځ د منځنۍ برخې پوله د ترکیې د را استول شوي هیئت لخوا له ۱۹۳۴ تر ۱۹۴۵مو کلونو تر منځ تنظیم شوه. کله چې اتاترک په ۱۹۳۸ کال کې مړ شو، نو افغانستان یوازینی هیواد و چې د بیرغ په نیم ځوړند کولو سره یې د یوې اونۍ لپاره په هیواد کې په رسمي ډول د ماتم اعلان وکړ.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته ترکیې په افغانستان کې د عصري دولتي جوړښتونو او ټولنیزو بنسټونو لکه اداري، نظامي، فرهنګي، ښوونیزې او روغتیا په رامنځ ته کولو کې رغنده رول ولوباوه. ترکیې تر ۱۹۶۰مې لسیزې پورې افغانستان ته د ښوونکو، ډاکترانو، نظامي افسرانو او په مختلفو برخو کې د کارپوهانو را استولو ته دوام ورکړ. د ۱۹۵۷ کال د اګست له ۲۶مې د سپټمبر تر ۸مې د ظاهرشاه سفر ترکیې ته په ښه ډول استقبال شو. د ځانګړي ملاتړ د ښکارندویۍ په توګه د ترکیې لومړي وزیر په ۱۹۵۶ کال د جولای له ۲۶مې تر ۳۰مې پورې له کابل څخه لیدنه وکړه او په هغه پسې په ۱۹۵۸ کال کې د سپټمبر له ۱۲مې تر ۲۲مې پورې د ولسمشر جلال بایار لس ورځنی سفر کابل، کندهار، هلمند، کندز او بغلان ته تر سره شو.

دغو نږدې همکاریو تر ۱۹۷۹ کال یانې د شوروي تر اشغال پورې دوام وکړ. له ۱۹۸۹ کال را وروسته ترکیې د افغانستان جګړه ځارله او هڅه یې کوله چې د خپل سفارت له لارې چې تر ۱۹۹۶ کال پورې پرانیستی و، د سولې او ثبات لارې چارې ولټوي.

له تېرو وروستیو ۱۹ کلونو راهیسې ترکیې د نظامي او د پولیسو د افسرانو روزنه پیل کړې ده، چې تر دې دمه یې ټولټال ۵۰۶۱ نظامي او ۹۹۱۳ د پولیسو افسران روزلي دي. نن ورځ ترکیې د تاریخ تر ټولو ډېرې مرستې په پراختیایي برخه کې وړاندې کړې دي، چې ډېرۍ هغه یې د زده کړو، زیربناوو او روغتیا په برخه کې لګېږي. افغانان په لوړه کچه له ترکیې څخه د تحصیلي بورسونو غوښتونکي او تر لاسه کوونکي دي. په اتو ولایتونو کې د ترکیې ۲۱ ښوونځي او څلور د زده کړو مرکزونه دي، چې ۷۰۸۰ زده کوونکي لري او موږ غواړو چې په نورو ولایتونو کې نوي ښوونځي پرانیزو. د افغانستان مختلفو سیمو ته د لاسرسي په موخه مو د ۲۰۲۰ کال د جون په میاشت کې خپله دویمه سرقونسلګري د هرات په ښار کې پرانیسته او په روان کال کې د کندهار په ولایت کې د درېیمې سرقونسلګرۍ د پرانیستو چمتووالی روان دی.

افغانستان له څلورو لسیزو راپدېخوا کړېږي. د سولې ډېر وختونه یې له لاسه ورکړل؛ خو د ۲۰۲۰ کال د ډسمبر له ۱۲مې راپدېخوا چې د افغانستان د سولې بهیر پیل شوی دی، نو یو تاریخي فرصت سولې ته د رسېدو لپاره رامنځ ته شوی. له دې سره سره موږ باید دا هیر نه کړو چې د سولې لاره اوږده او له خنډونو ډکه ده؛ نو موخه باید یوازې ژر راتلونکې سوله نه، بلکې تلپاتې او پایښتي سوله وي. نو له دې امله ښکېلې خواوې مسوولیت لري چې دا فرصت له لاسه ورنه کړي.

ترکیه تل د افغانانو په رهبرۍ او ملکیت د سولې د روان بهیر پلوي کوي. په دې اړه څو چې زموږ د مرستې اړتیا وي، چمتو یو چې له افغان وروڼو څخه ملاتړ وکړو، څو د هغې تلپاتې سولې د راوستو د هڅو ګډونوال شو چې د افغانستان د هرې طبقې خلکو او د سیمې او نړیوالو لوبغاړو د هرکلي وړ وګرځي.

# د چین د دوو مجلسونو د ۲۰۲۱ کال کلنۍ غونډې به ژر پرانیستل شي



لیکنه: سپوږمۍ
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله

د چین رسمي سرچینو ویلي، چې د دغه هیواد د دوو مجلسونو د ۲۰۲۱ کال کلنۍ غونډې به په جلا جلا توگه د مارچ په ۴مه او ۵مه نېټه په پلازمېنه بېجینگ کې پرانیستل شي.

د چین د دوو مجلسونو کلنۍ غونډې د کال تر ټولو مهمې سیاسي پېښې دي، چینایان د رایې اچونې په واسطه خپل حقونه اجرا کوي او د دولت له مهمو پرېکړو مخکې خپلمنځي سلامشورې کوي او په اخر کې یووالي ته رسېږي.

**د چین دوه ملي مجلسونه کوم دي؟**

د چین ملي ولسي کانگرېس او ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د چین دوه ملي مجلسونه دي. د چین د اساسي قانون له مخې، ملي ولسي کانگرېس د هېواد تر ټولو لوړ پوړې واکمن او تقنیني ارگان دی، چې د ډیموکراتیکې رایې اچونې له لارې رامنځته کېږي او له یوې دایمي کمېټې او څو څانگړو کمېټو څخه تشکیلېږي. د ماموریت موده یې پنځه کاله وي او هر کال یو ځل عمومي غونډه تر سره کوي. د ۲۰۲۱ کال د مارچ په ۵مه نېټه به د چین د ۱۳م ملي ولسي کانگرېس ۴مه غونډه پرانیستل شي او ۲۹۵۴ استازي به پکې گډون ولري. د ملي ولسي کانگرېس عمده دندې د اساسي قانون او نورو قوانینو جوړول او تعدیلول، د دولتي مشرانو، وزیرانو او د هېواد د عدلي ارگانونو مشرانو ټاکل، د اقتصادي او ټولنیز پرمختگ د ملي پلان یا ستراتیژۍ تصویبول او په بېړنیو حالاتو کې د جگړې یا سولې پرېکړې کول دي.

د چین ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د هیواد د مختلفو سیاسي ډلو، گوندونو او د لږکیو قومونو له استازو څخه جوړیږي، چې عمده دندې یې د سیاسي چارو په اړه سلامشورې او ډیموکراتیکه څارنه ده، یوه ملي کمېټه او په ولایتونو او کورواکو سیمو کې خپلې فرعي کمېټې لري، د باور موده یې پنځه کاله ده او هر کال یو ځل عمومي غونډه تر سره کوي. د چین د ولسي سیاسي مشورتي کنفرانس د ۱۳مې دورې ملي کمېټې ۴مه غونډه به د ۲۰۲۱ کال د مارچ په ۴مه نېټه پرانیستل شي او ۲۱۵۸ غړي به پکې گډون ولري.

**د روان کال د دوو مجلسونو ځانگړې کلنۍ غونډې**

کرونا وبا د ۲۰۲۰ کال له پیل راهیسې د چین په گډون پر ټوله نړۍ خپله لمن راتاو کړې ده. د چیني حکومت او خلکو په گډو هڅو سره په دغه هېواد کې د کرونا وبا کنټرول شوې او اوس عامو خلکو ته د واکسین ورکولو بهیر هم روان دی. چین تېر کال په نړۍ کې یوازینی عمده اقتصاد گرځېدلی، چې مثبت پرمختگ یې ساتلی دی. د چین په پلازمېنې بېجینگ کې هر کال د دوو ملي مجلسونو کلنۍ غونډې تر سره کیږي، په دغه ښار کې له تېرو ۱۵ ورځو راهیسې د کرونا هېڅ نوې مثبته پېښه نه ده رامنځته شوې.

د بېجینگ ښاروال ډېرې هڅې کوي او د یادو دوو مجلسونو د سرېنیو کلنیو غونډو د بریالي تر سره کېدو لپاره یې ځینې جدي اقدامات هم تر سره کړي دي. د بېجینگ ښار ترانسپورټ ادارې د فبرورۍ په ۲۱مه اعلان وکړ، چې د سږنیو کلنیو غونډو په ترخ کې یې د ټولو اړوندو موټرونو او ترانسپورتي وسایلو جدي چېک او پلټنې بشپړې کړې او ټولو موټر چلونکو ته یې د کرونا وبا ضد واکسین تزریق کړی دی.

دغه راز د بېجینگ ښاروالي به د یادو کلنیو غونډو په ترخ کې هره ورځ د اړوندو موټرونو په دننه او شاوخوا کې د عفونې ضد دوا وپاشي او ښه اداره به یې وکړي.

د نړۍ بېلابېلو مشهورو رسنیو به خپل خبریالان هر کال د چین د دوو مجلسونو د کلنیو غونډو د راپور کولو په پار بېجینگ ته رالیږل، څکه دغه غونډې د نړۍ د پاملرنې وړ دي. د چین حکومت سږ کال د کرونا وبا د خپرېدو د مخنیوي لپاره یوازې په بېجینگ کې د بهرنیو رسنیو مېشتو خبریالانو ته د راپورتاژ جوړولو اجازه ورکړې او نړیوالې رسنۍ کولی شي، چې په بهر کې د چین د یادو دوو مجلسونو په اړه په ویډیویي او کتبي بڼه مرکې او یا رپوټونه جوړ کړي.

**د دوو مجلسونو د سږنیو کلنیو غونډو په ترخ کې د پام وړ مسئلې**

۲۰۲۱ کال د چین د کمونېست گوند د جوړېدو له سلمې کلیزې سره برابر او د چین د ملي اقتصادي او ټولنیز پرمختگ څوارلسم پنځه کلن پلان پیل دی. د چین د ۱۳م ملي ولسي کانگرېس په ۴مه غونډه کې به پر څوارلسم پنځه کلن پلان او تر ۲۰۳۵ کال پورې د لرې موخې پر مسودې بحث وشي. د چین لوړپوړي چارواکي اوس له یوه قیمتي فرصت سره مخ دي، څو د خپل وطن د راتلونکو پنځو کلونو د پرمختگ لپاره یوه نقشه جوړه کړي.

چین اوس د نړۍ دویم لوی اقتصاد دی. دا چې په راتلونکي کې به پر کوم لوري گامونه پورته کړي او څه ډول پرمختگ به وکړي؛ بې له شکه د چین دا چارې به د نړۍ زیاته پاملرنه راجلب کړي. د دې تر څنگ د چین کمونېست گوند د جوړېدو سلمه کلیزه د چیني مشرانو لپاره خاص اهمیت لري، نو دوی به د دوو مجلسونو په سږنیو کلنیو غونډو کې څه سیاسي پیغام او معلومات ورکړي؟ دا هم د پاملرنې وړ ټکی دی.

اروپایي هېوادونه او امریکا لا هم د کرونا وبا ضد مبارزه کې سختې هلې ځلې کوي، خو د چین حکومت نه یوازې په خپل هېواد کې وبا کنټرول کړې او مخنیوی یې کړی او اقتصادي پرمختگ یې موندلی؛ بلکې د ټاکلي پلان له مخې به دغه لویې سیاسي غونډې هم جوړې کړي. د چین لپاره د کرونا وبا ضد مبارزې لویه لاسته راوړنه ده، چې نه یوازې د چینایانو، بلکې د دغه هېواد د سیاسي نظام بریالیتوب هم بلل کېږي.

# د دوحې هوکړې یو کلن مزل؛

## افغان حکومت: دې هوکړې افغانانو ته نه، بلکې امریکایانو ته گټه وکړه




د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه یو کلنه شوه، خو دواړه لوري یې پر یو بل د عملي کولو غږ کوي. امریکا له طالبانو غواړي چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي او طالبان بیا له امریکا غواړي چې هوکړه د دوی په څېر عملي کړي.

افغان حکومت بیا وایي چې د سولې د خبرو په نامه یوازې وخت ضایع شوی دی، د سولې هوکړې افغانانو ته گټه نه ده کړې او یوازې یې د امریکایانو لپاره گټه لرلې ده.

تېر کال د ټرمپ د واکمنۍ پر مهال د کب یا حوت په لسمه په دوحه کې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه. ټاکل شوې وه چې د هوکړې تر لاسلیک وروسته بین الافغاني خبرې پیل شي، دایمي اوربند ته لار هواره شي، بهرني ځواکونه له افغانستان ووځي او طالبان به له بهرنیو ترهگرو ډلو سره خپلې اړیکې پرې کوي، خو د دې هوکړې له لاسلیک پوره یو کال کېږي بیا یې هم په افغانستان کې جگړې نه دي کمې کړې او افغانان لا هم نسبي امنیت او سولې ته په تمه دي. په همدې مناسبت تېره ورځ د طالبانو د ویاند له لوري رسنیو ته یوه اعلامیه هم لېږل شوې ده. په دغه اعلامیه کې راغلي، چې طالبانو له خپل لوري د سولې هوکړه عملي کړې او امریکا ته هم په کار ده چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي. په اعلامیه کې راځي، چې د سولې هوکړه د افغانستان د رواني جگړې د ختمولو لپاره یوازینۍ حللاره ده او په وینا یې، که له دې پرته بله هره حللاره وړاندې کېږي، نو سر له اوسه به له ماتې سره مخ شي. دوی پر امریکا غږ کړی چې ژر تر ژره خپل سرتېري له افغانستان وباسي او پر هغه ژمنه یې دې عمل وکړي چې ویلي یې وو، د روان میلادي کال تر مې میاشتې به ټول سرتېري له افغانستان وباسي.

طالبانو همدا راز له امریکایانو غوښتي چې د مشرانو نومونه یې له تور لېست وباسي، پاتې بندیان یې خوشي کړي او د دوحې هوکړې ټول اړخونه دې عملي کړي. دوی ټینگار کوي چې د افغان جگړې د ختمولو یوازینۍ لار د سولې هوکړه ده او امریکا ته په کار ده چې پر دې هوکړه عمل وکړي.

بلخوا افغان حکومت بیا په دې باور دی چې د سولې هوکړه یوازې د وخت ضایع کول وو او افغانانو ته یې گټه نه ده لرلې. د افغانستان د ملي امنیت شورا د دفتر ویاند رحمت الله اندړ له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې دې هوکړې د سولې په نامه یوازې وخت ضایع کړ، بله کومه گټه یې افغانانو ته نه لرله. د ده په خبره، د سولې هوکړې باید په افغانستان کې جگړې کمې کړې وای، بین الافغاني خبرې چټکې شوې وای او دلته یې یوه دایمي اوربند ته لار هواره کړې وای. اندړ وایي چې د سولې هوکړې له امریکایي ځواکونو سره د اوربند زمینه برابره کړه او له افغانانو سره یې جگړې نه دي کمې کړې.

د سولې هوکړې له کلیزې سره هممهاله امریکایي چارواکي بیا په دې باور دي چې طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی. په وروستیو کې گڼو امریکایي او د ناټو ځینو چارواکو په خپلو څرگندونو کې ویلي، چې طالبان خپلو هوکړو ته ژمن نه دي او باید د سولې پر هوکړه بیا کتنه وشي. د دوی په خبره، طالبانو له القاعده شبکې سره اړیکې نه دي پرې کړې، تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی او د سولې په خبرو کې پرمختگ نشته دی. بلخوا د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني بیا وایي، چې د سولې لپاره د خلکو هیلې له منځه تللې دي. د ده په وینا، طالبانو تر سولې پر جگړې تمرکز ډېر کړی او د دې احتمال شته چې جگړې پیل کړي او په دې سره د افغانانو هیلې نورې هم له منځه یوسي.

# د واشنگټن او ریاض ناندرې؛

## امریکا: د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان په ښکاره د جمال خاشقجي په وژنې کې لاس لري



امریکا د لومړي ځل لپاره د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان په څرگنده د ژورنالېست جمال خاشقجي په وژنې تورن کړی دی.

دا لومړی ځل دی چې د امریکا متحده ایالتونه په څرگنده وایي چې د سعودي عربستان ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان د جمال خاشقجي د نیولو یا وژلو طرحه تایید کړې وه.

په هغه استخباراتي راپور کې چې د ولسمشر جو بایډن ادارې خپور کړی، راغلي چې محمد بن سلمان د ترکیې په استانبول کې د جمال خاشقجي د نیولو یا وژلو لپاره عملیات تایید کړي وو.

دغه راپور په ۲۰۱۸میلادي کال کې چمتو شوی، خو د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ ادارې یې د خپرېدو مخه نیولې وه. اوس د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وایي، په ۷۶سعودي وگړو یې د سفر بندیز لگولی دی.

خو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ویلي چې دا ټول د خاشقجي په قضیې پورې تړلي نه دي. هغه ویلي: «موږ د خاشقجي د قضیې په تعقیب اقدامات وکړل او په ۷۶ کسانو مو چې فکر کوو له سعودي عربستان څخه بهر مخالفانو ته گواښ گڼل کېږي، د سفر بندیز ولگاوه.دا بندیزونه د خاشقجي په قضیه کې شامل دي، خو یوازې د قتل په دې قضیې پورې محدود نه دي.»

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر همدارنگه ویلي، د سعودي عربستان له خوا پر فعالانو او خبریالانو بریدونه باید ودرېږي او دا د متحده ایالتونو لپاره د منلو نه دي، خو د هغو کسانو په منځ چې بندیز پرې لگېدلی، پخپله د سعودي عربستان ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان شامل نه دی.

امریکایي چارواکو ویلي، د امریکا د یو متحد هېواد په مشر د بندیزونو اړتیا نه شته. کله چې د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر وپوښتل شول، هغه وویل چې د سعودي او امریکا اړیکې د یو فرد په اړه له پرېکړې لوېې دي.

بلېنکن زیاته کړې: «هماسې چې مخکې مې ویلي، له سعودي عربستان سره اړیکې تر هغې لویې دي چې یو شخص یې په اړه پریکړه وکړي. ولسمشر د سعودي له پاچا سره په تماس کې دی. ما پخپله د سعودي د بهرنیو چارو په وزارت کې له خپل سیال سره خبرې کړې، د دفاع وزیر لوېډ اسټن هم له خپل ساري سره چې خپله محمد بن سلمان دی، خبرې کړې دي.»

په ورته مهال د امریکا د خزانې وزارت اعلان کړی، چې د سعودي عربستان د استخباراتو د یوه پخواني کار کوونکې پانگه یې کنگل کړې او له نومړي سره یې هر ډول راکړه - ورکړه جرم بللی دی.

ورته اقدام د هغه پوځي ټولي پر وړاندې هم شوی، چې د محمد بن سلمان د ساتنې مسولیت لري او یوازې هغه ته ځواب ویونکی دی.


په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن ویلي، هېواد یې له سعودي عربستان سره د وسلو پر تړون غور کوي، څو ډاډمن شي چې سعودي ته ورکول کېدونکې وسلې دفاعي دي نه تهاجمي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دوراني: نه، هو. معمولاً جاسوسي تل حکومتي مقامات خوښوي، خو زه دا نه منم چې جاسوسي دې د نورو مهارتونو په پرتله نیمایي هم د عزت وړ وي. خو بیا هم ډېره سرلوړې دنده ده. جاسوسان خپل هېواد ته په خدمت کې لوی خطر پر ځان مني، ځکه دوی هر وخت په کې نیول کېدای شي.
معمولاً چې یو ځل جاسوس ونیسئ، بیا یې نه پرېږدئ. پیغام رااستوئ، چې زموږ دوه کسان له تاسو سره دي، خو اوس له موږ سره هم ستاسو یو کس دی. زړه مې غواړي سره تبادله یې کړو. ستاسو یو کس به هغه وخت درپرېږدو، چې زموږ دوه کسان راپرېږدئ. په همدې توګه به په پنځو یا لسو کلونو کې همداسې تبادلې کوو.
همدارنګه، په ورته مهال دا هم نه وایئ، چې له نیول شوي جاسوس څخه معلومات هم ترلاسه کوئ. دی ستاسو په لاس کې وي، د ارتباطیانو او شبکې په اړه ترې پوښتنې کوئ. دا یو نورم دی.
دا ډېره پېچلې کیسه ده. ایرانیانو ته هم باید متوجه اوسو. که څه هم دا مسئله ما ته دومره حیرانوونکې نه ده، خو له ډېر وخت راهیسې خلک وایي، چې ولې ټول مهم کسان په بلوچستان کې وي. نه یوازې هندیان او ایرانیان، بلکې اسرائیل، امریکایان، روسان، افغانان...
دولت: چینایان؟
دوراني: ...چینایان او نور ټول همدلته وي. همدا ساحه د مختلفو موخو لپاره، ډېره مهمه ساحه ده. ځینې ددې لپاره همدې ځای ته ځي، چې د ایران او پاکستان له خوا جوړېدونکې نللیکه والوځوي یا اقتصادي دهلېزونه(کورېډور) سبوتاژ(تخریب) کړي؛ ځینې ددې لپاره ځي چې د همدې کسانو پلانونه بریالي کړي او پلانونه یې خراب نشي. همدا ساحه د «نوې لویې لوبې» لپاره مهمه ده.
کله چې پاکستان پر [یادېو] د جاسوسۍ تور لګاوه، موخه یې دا وه، چې د پټان کوټ په مسئله کې د هند له ګوابښ سره پرې مبارزه وکړي. که څه هم پاکستان له همدې ګوابښ سره بیا وروسته په اپرېل میاشت کې مخامخ شو او یادېو په مارچ میاشت کې نیول شوی و.
دولت: ګوابښ څه و؟
دوراني: ګوابښ دا و چې هند د پټان کوټ او زموږ د اداري تر منځ د اړیکو معلومول غوښتل. نو موږ یو مخالف استدلال وړاندې کړ، چې موږ پوهېږو تاسو هم همدا کار په بلوچستان کې کوئ.
دویم دا چې پاکستان هم ارام نه دی ناست، بلکې په بلوچستان کې ډېر ښه متقابل اقدامات کوي. بلوڅ مقاومت تر ډېره سرکوب شوی دی. شهباز تاثیر هم د قادري تر اعدامېدو وروسته راخلاص شو. پاکستان خپلو خلکو ته د روحیې په ورکولو او د هندیانو په زړونو کې د خدای د وېرې په پیدا کولو کې ښه دی. دا زما خپل ګومان دی. حقیقت بل ډول هم کېدای شي: موږ پر دې هم پوهېږو چې همدا لوبې ځنګه وکړو. تاسو زموږ ډېر کسان نیولي وو، خو موږ ستاسو ډېر مهم نفر نیولی و. دا مانا چې موږ پر تاسو برلاسي وو. آن یو بل مهم او بدمرغه دلیل هم شته؛ هغه دا چې کله چې موږ ستاسو جاسوس ونیوه، لوبه نوره هم ګرمه شوه.
پاکستان په یوه وخت کې له ټولو اړخونو کلابند دی: له یوې خوا یې له هند سره اړیکې خړې پړې دي، له بلې خوا د افغانستان حالات دي او بل لور ته یې امریکایان په اړه منفي تبلیغات کوي. په همداسې حالاتو کې مو خلکو ته هم دا ور تلقینېږي، چې پاکستان هر وخت بایلونکی دی.
دولت: زه له مشر سره همنظره یم. که له زړه درته ووایم زه حیران یم چې دی نه پوهېږي، ځکه زه هم نه پوهېږم. موږ له ډیلي څخه له ردولو پرته بل څه نه اورېدل؛ چې وبه مو ویل چې پلانی جاسوس دی، دوی به رد کړه، که به مو و ویل چې پلانی جاسوس نه دی، بیا به یې هم رد کړه.
په ډېره کمه پوهه هم یو څوک پوهېږي، چې که همدا د RAW عملیات وو او (یادېو) د RAW جاسوس وي، نو ډېر خراب عملیات دي.
دوراني: امممم.
دولت: تاسو په بلوچستان، چمن یا بل ځای کې لوړ رتبه سمندري افسر د ګرځېدو په حال کې نشئ پیدا کولی.(که جاسوس نه و) نو هلته یې څه کول؟
جاسوسان نیول کېدای شي، خو ښایي په همدې ډول نه لکه تاسو چې وایاست. زموږ یوه مخکینۍ تیوري وایي، چې دی لومړی برمته شوی، بیا هلته وړل شوی دی.
دوراني: امممم.

**دوام لري...**

# بنتلي

حشمت الله نوري

بنتلي د موټر جوړونې برېتانوی شرکت دی. دغه شرکت تر ډېره لوکس او د خلکو د پام وړ موټرونه تولیدوي. یاد شرکت له ۱۹۹۸ کال راهیسې د فولکس واګن له لوري اداره کېږي. موټرونه یې ګران بیه او لوکس دي او تر ډېره یې د لوړې طبقې خلک کاروي.
بنتلي کمپنۍ لرغونې او تاریخي کمپنۍ ده او له ډېرې مودې راهیسې فعالیت کوي. د دغه شرکت لومړني کارونه په ۱۹۱۹ کال کې پیل شوي دي. هغه وخت یې چارې والتر اوون بنتلي پیل کړې، هغه د همدې شرکت بنسټګر هم دی. په هغه وخت کې یې شپږ ځله د موټر ځغلونې په سیالیو کې لومړی مقام ګټلی دی. دغه بریاوې یې په ۱۹۲۴، ۱۹۲۷، ۱۹۲۸، ۱۹۲۹ او ۱۹۳۰مو کلونو کې ګټلې دي.
په ۱۹۳۱ کال کې رولز رویس کمپنۍ دغه شرکت واخیست. وروسته یې بنتلي کمپنۍ اصلي فابریکه وپلورله او وروروسته یې تولیدات د دوو کلونو لپاره ودرېدل. له ۱۹۳۳ کال راهیسې یوازې د سپورت سایلنت رولزرویس په نامه موټرونه په بنتلي کمپنۍ کې تولیدېدل.
دمګړۍ د بنتلي کمپنۍ مرکزي دفتر او کارځای د برېتانیا په کرو ښار کې دی. د ۲۰۱۲ کال په نومبر کې د بنتلي د موټر تر ټولو ډېر مینه وال په چین کې وو. دغه کمپنۍ تر ډېره د چینایانو لپاره موټر تولیدلول او تر ټولو ډېر مشتریان یې هم په همدې هېواد کې وو.
تر لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې والتر اوون بنتلي، د خپل ورور هوراس میلنر بنتلي په مرسته د یوه فرانسوي شرکت د موټرونو د پلور کاروبار کاوه. دغه کمپنۍ ډي اېف پي نومېده. دوی سره له دې چې خپل کاروبار درلود، تل یې هڅه کوله چې په خپلواکه توګه د موټرونو د تولید کارځای ولري او د بنتلي په نامه د موټرونو د تولید لړۍ پیل کړي.
والتر په ۱۹۱۳ کال کې د ډي اېف پي کمپنۍ ته ولاړ، هلته یې د آلمونیم په نامه سپک فلز استفاده کړ. وروسته له دې یې په دې اړه فکر وکړ چې د درنو اوسپنو او فلزاتو پر ځای سپک خو کلک فلزونه په موټرونو کې وکارول شي. دوی همداسې وکړل، وروسته یې چې بنتلي کمپنۍ جوړه کړه، تر ډېره به یې هڅه کوله چې له سپکو فلزاتو جوړ شوي وسایل په خپلو موټرونو کې وکاروي. د بنتلي له همداسې پرزو یو جوړ شوی موټر وروسته په لومړۍ نړیواله جګړه کې وکارول شو او په لومړي ځل په نړیواله جګړه کې د سپکو فلزاتو لپاره د نوموړې طرحه په الوتکو او نورو جنګي وسایلو کې وکارول شوه.
د بنتلي د موټرونو شرکت د همدې هڅو په پایله کې د ۱۹۱۹ کال په جنورۍ کې د والتر اوون بنتلي له لوري جوړ شو. بنتلي په هماغه لومړي سر کې پرېکړه وکړه چې ځانګړی او استثنایي موټر جوړ کړي. د همدې کال اکتوبر میاشت کې یې خپل شرکت د بنتلي موتورز په نامه رسماً ثبت کړ.
د همدې کال په اوړدو کې یې خپل موټر د لندن په نندارتون کې ننداري ته وړاندې کړ. دا د دوی لومړی طراحي او جوړ شوی موټر و، دوی هڅه کړې وه او تر هغه څه ډېر ځانګړنې یې دغه موټر ته ورکړې وي، چې دوی یې انتظار درلود. دوی لا خپل موټر پلور ته وړاندې نه کړ، چې د ۱۹۲۱ کال په سپټمبر کې یې خپل موټر مکمل کړ او هغه یې بازار ته وړاندې کړ.
بنتلي کمپنۍ د ملکیت له اړخه درې دورې تېرې کړې دي. لومړۍ دوره یې له ۱۹۱۹ کال پیل کېږي او په ۱۹۳۱ کال کې پای ته رسیږي. په دې دوره کې د بنتلي مدیریت په مستقله توګه عمل کاوه، هغه وخت د والتر بنتلي په واک کې و. دوی ډېر ویاړونه، جایزې او بریالیتوبونه په همدې مرحله یا دوره کې خپل کړې دي.
د لومړۍ دورې په وروستۍ مرحله کې شرکت له لوړو ژورو سره مخ شو. په دې وخت کې ولف بارناتو سره له دې چې د بنتلي بویز ډلې غړی هم و، په دې وخت کې په ځینو کارونو لاس پورې کړ. د هغه هڅه دا وه چې د بنتلي اصلي سبک او تګلاره وساتي؛ خو وروسته په شرکت کې ځینې ستونزې پیدا شوې، مالي اړخ یې کمزوری شو او دا چاره د دې سبب شوه چې شرکت ته د خلکو تقاضا کمه شي. بله ستونزه دا وه چې د دغه شرکت محصولات ګران بیه وو او نور نو دې کسانو د دې توان نه درلود چې دغه شرکت اداره کړی شي. له همدې امله بنتلي په پای کې دا پرېکړه وکړه چې په ۱۹۳۱ کال کې بنتلي پر رولز رویس باندې وپلوري.
د بنتلي بویز کمپنۍ کې څوک کسه شتمن او پیاوړي برېتانویان شریکان وو. دوی کوښښ کاوه چې د بنتلي نوم وساتي او له همدې نامه په استفادې په سیالیو کې ونډه واخلي.
رولز رویس لمتید په پټه او په مستعار نامه هڅه وکړه چې بنتلي کمپنۍ واخلي، دوی د برېتیش سنترل اکویټبل ټرسټ په نامه بنتلي شرکت واخیست او د هغه د اداري چارې یې پیل کړې. والتر بنتلي هم تر هغه د دغه شرکت په اصلي هویت نه و پوه، څو یې چې په مکمله توګه دغه هوکړه نه وه ترلې. په ۱۹۳۵ کال کې د بنتلي شرکت ټول واک د رولز رویس کمپنۍ په لاس کې شو. په پای کې والتر بنتلي د ترلې هوکړې له مخې بنتلي شرکت پرېښود او په ۱۹۳۵ کال کې له لاګوندا کمپنۍ سره یو ځای شو. د بنتلي کارځای هم په کریکلوو کې په ټپه ودرېد، وروسته دا کارځای د رولزرویس په مدیریت وپلورل شو، د بنتلي تولیدات هم وروسته رولز رویس کمپنۍ ته انتقال شول او د انګلستان په دربي ښار کې یې خپلو کارونو ته ادامه ورکړه.
په ۱۹۳۳ کال کې بنتلي د رولزرویس بنتلي په سوداګریز نامه بازار ته موټرونه وړاندې کړل. پخواني مشتریان ناهیلي شول، خو په دې بریالي شول چې نوي مشتریان ځان ته جذب کړي. له دویمې جګړې وروسته د بنتلي او رولزرویس تولیدات په چشر ښار کې یوه کارځای ته ولېږدول شول، دوی په دویمه نړیواله جګړه کې د موټرونو تولید ته ادامه ورکوله او له همدې ځایه به نورو ځایونو ته لېږدول کېدل.
په دې دوره کې چې کوم موټرونه جوړ شوي، تر ډېره یو بل ته ورته وو. په حقیقت کې بنتلي او رولز یو ډول موټرونه تولیدول، خو یوازې هڅه یې کوله چې ځینې ظاهري ځانګړتیاوې یې بدلې کړي. کله کله به داسې هم کېدل چې یو محصول په دوو بېلو نومونو او برنډونو تولیدېده. وروسته کمپنۍ پرېکړه وکړه چې بنتلي یوازې په یوه نامه تولید کړي، له همدې امله یې بنتلي بېل تولیدات پیل کړل، خو بیه یې تر رولزرویس ټیټه وه.
په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰مو لسیزو کې د دغه شرکت حالت خراب و، شرکت یو څه ستونزې پیدا کړې، لوړو ژورو ته یو ځل بیا ورسېد او په دې وخت کې رولزرویس شرکت له ځینو ستونزو سره مخ شو، غوښتل یې خپلو کمپنیو ته پراختیا ورکړي، کارځایونه یې جوړ کړل او بالاخره له دې امله له داسې ستونزو سره مخ شو چې د دغه شرکت ماتې یې نېږدې کوله. نو رولز رویس شرکت نور د دې وړتیا نه لرله چې ځان وساتي او هماغه وو چې په ۱۹۸۰ کال کې ویکرز پي ال سي شرکت واخیست. وروسته نو د بنتلي کمپنۍ او برنډ هم د ویکرز شرکت تر چتر لاندې فعالیت پیل کړ. په دې موده کې د سپورت بنتلي کارځای بېرته له سره فعال شو او ویکرز د کمپنۍ له لارې د بنتلي موټر د تولیداتو لړۍ یو ځل بیا پیل شوه.
ویکرز کمپني یو بل اقدام هم کړ، د لوزرویس سوداګریز نوم یې له بنتلي لرې کړ، د بنتلي شرکتونو ټولګه د ۱۹۸۰ تر ۱۹۹۸مو کلونو کې د ویکرز کمپنۍ تر مدیریت لاندې خپلو تولیداتو ته ادامه ورکړه. په ۱۹۸۴ کال کې د دغه کمپنۍ تر مدیریت لاندې د بنتلي لومړنی موټر بازار ته وړاندې شو.
وروسته په ۱۹۹۸ کال کې بنتلي شرکت فولک واګن کمپنۍ واخیست. هغه وخت یې د ۴۳۰ میلیونو ډالرو په ارزښت واخیست.
کله چې فولکس واګن د بنتلي کمپنۍ مدیریت پیل کړ، د فولکس واګن او بي ام تر منځ ځینې قضیې رامنځ ته شوې. په دې وخت کې نو دغه انګلیسي شرکت ته نور فرصتونه هم برابر شول. الماني فولکس واګن مالک یې هڅه کوله چې دغه کمپنۍ وده وکړي او دغه برنډ بېرته د خپلو پلویانو ترمنځ ځای پیدا کړي.
بنتلي موټورز کمپنۍ اوس هم فعاله کمپنۍ ده، د ۳۵۰۰ کسانو په شاوخوا کې کارکوونکي لري، کلنی عاید یې تر ۱.۴ ملیاردو یورو پورې رسېږي. له ۱۹۹۸ کال راهیسې دغه شرکت د فولکس واګن په مشرۍ فعالیت کوي. له هغې مهاله تر دې دمه یې لاندې موټرونه جوړ کړی دي چې په بازار کې اوس هم مینه وال لري: بنتلي ارینج، بنتلي هونادیئرز، بنتلي استیت لموزین، بنتلي کانتیننتال جی‌تی، بنتلي کانتیننتال فلایینګ اسپار، بنتلي آزور، بنتلي ارینج فاینال، بنتلي آزور تي او بنتلي کانتیننتال جی‌تی سوپرسپورت.
مخکې له دې چې بنتلي شرکت د موټرونو په برخه کې شهرت پیدا کړي، هغه په یوه بل څه کې شهرت پیدا کړ، دوی په لومړۍ نړیواله جګړه کې د الوتکو لپاره ځینې ځانګړې پرزې جوړولې، ماشینونه یې جوړول او له همدې ځایه یې د شهرت لړۍ پیل شوه. له دې وسایلو په لومړۍ نړیواله جګړه کې کار واخیستل شو. دوی هڅه کوله چې الوتکې تولید کړي، ځکه په لومړي سر کې یې غوښتل موټرونه جوړ کړي، خو وېې لیدل چې د موټرونو په بازار کې هغه وخت ځای پیدا کولی شي چې نوې طرحې جوړې کړي.
نو په لومړي سر کې یې د الوتکو جوړولو ته متې بډ وهلې، له همدې امله یې د موټرونو په لوګو کې تاسې د الوتکې وزر لیدلی شی.
د بنتلي کمپنۍ مشر اوس وولفګنګ شریبر دی. هغه ډېره هڅه کوي چې دغه کمپنۍ پیاوړې کړي، د هر موټر معرفي پخپله کوي او هڅه یې دا ده چې له مشتریانو سره مخامخ خبرې وکړي او په دې توګه د دوی نظرونه واوري.
هغه د خپل یو تولید شوي موټر د معرفي په مراسمو کې وایي: «موږ ډېره هڅه کوو چې د موټر نړۍ ډېره باوري او ډېره پرمخ تللې کړو. موږ تر ډېره دا کار ثابت کړی دی.»
فولکس واګن او بنتلي په خپلو وړتیاو توانېدلي دي چې د مشتریانو پام ځان ته راواړوي. د دې کمپنیو مسوولین وایي: موږ هڅه کوو چې دا لړۍ همداسې دوام وکړي، موږ هڅه کوو چې لا د مشتریانو رضایت خپل کړو او د دوی توجه د نړۍ تر ټولو ښکلو موټرونو ته واړوو. زموږ ځانګړتیاوې ډېرې دي، موټرونه مو ګران دي؛ خو ښکلي دي، ډیکورشن یې عالي دی، د نړۍ تر ټولو مشهور انجنیران له موږ سره کار کوي او دوی په باور دغه موټر ازمويي او وروسته یې ستاسې په واک کې درکوي.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۴۵ |
| € | ۹۳,۳ |
| Rp. | ۴۸۴ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له راتلونکې د وېرې پر وړاندې د اغېزمنې مبارزې ۹ لارې

ژباړه: حامد احمدزی

خلک په دې نه پوهیږي چې سبا، بله ورځ یا هم میاشت یا کال وروسته به څه پېښیږي؟؟ دا ژوند دی هرڅه پکې پېښېدونکي دي. زیاتره خلک له راتلونکې څخه په وېره کې ژوند کوي، که هرڅومره په احتیاط او د مهالوېش له مخې مخته لاړ شي هم؛ بیا هم نشي کولی چې هر څه سم او په خپل وخت تر سره کړي. هغه څه چې احتمالاً پېښیږي موږ باید له پښو ونه غورځوي. د ناڅرګنده راتلونکې د وېرې له امله ډېری خلک له مهمو پرېکړو کولو څخه ډډه کوي، دوی ممکن د لارې په اوږدو کې خورا ښه فرصتونه له لاسه ورکړي. په دې لیکنه کې موږ له راتلونکې د وېرې پر وړاندې د اغېزمنې مبارزې نهه لارې چارې په ګوته کړې دي.

**۱- دا مه هیروئ، لویې پېښې کله کله رامنځته کېږي**

دا حقیقت دی او موږ تجربه کړې هم ده او په اړه یې هېڅ شک هم نشته چې ډېری خلک د هغه څه په اړه فکر کوي چې ډېر کم پېښیږي. د بېلګې په ډول، کله چې موږ د خپل دفتر له رییس سره وینو او په یوه موضوع ورسره خبرې کوو، خو کله چې مو له رییس سره خبرې خلاصې شي او له دفتره یې بهر شو، له ځان سره بېلابېل فکرونه کوو او دا وایو چې زما د خبرو په اړه به یې نظر څه وي؟ دا هغه څه دي چې په ژوند کې عادي دي او باید وړې خبرې په خپل ذهن کې لویې ونه نیسو. واقعیت له خیالاتو سره ډېر توپیر لري، چې همدغه خیالات له حقیقت څخه موږ وېروي.

**۲- تر ټولو سخت شرایط په نظر کې ولرئ**

کله چې دا ومنئ چې لویې وېرې کمې پېښیږي، همدا وخت له خپل ځانه وپوښتئ، تر ټولو بد حالت چې ممکن پېښ شي، هغه به څه وي؟ له دې سره دا کار موږ دې ته متوجه کوي چې څومره بد حالات هم مخې ته راشي، دنیا نه رنګېږي. د لویو پېښو په نظر کې نیولو سره موږ پوهېږو چې زموږ وېره هغومره لویه نه ده لکه څنګه مو چې فکر کاوه. دا روښانه ده چې ځینې یې ممکن زموږ پر ژوند مثبت اغېز ولري، خو له ژوند کولو څخه مو نشي بې برخې کولی.

**۳- کله چې اندېښمن وی، ځانونه بوخت وساتئ**

ځینې وخت د ډېرو اندېښنو له امله بې خوبه کېږو، په داسې وختونو کې تر ټولو غوره لاره دا ده چې خپل ځان بوخت وساتو. د خوښې وړ فعالیت سره د ذهن بوخت ساتل د منفي احساساتو د له منځه وړلو لپاره اغېزمنه لاره ده.

**۴- پر وخت تمرکز وکړئ**

زموږ د زیاتره وېرو اصل په ځینو شیانو نه پوهېدل او د راتلونکې وېرې په اړه ځان ډېر وېرول دي. اصلي خبره دا ده چې موږ لاهم په دې فکر کوو چې یوازې نن وخت لرو، ځکه چې سبا ته لا وخت پاتې دی! که نشي کولی چې په اوسنیو ستونزو ځان بر لاسه کړی، یو قدم مخته لاړ شئ او په اړه یې ښه فکر وکړئ.

**۵- د وروستۍ وېرې په اړه مو فکر وکړئ**

په ژوند کې مو په وروستي ځل څه پېښ شول او هغه څه چې ترې وېرېدلي وی، څه وو؟ کېدای شي په ډېر ښه یا هم بد حالت کې مو ترې ځان خلاص کړی وي، کېدای شي تاسو له هغه سره موافق نه وی، هغه کار چې تاسو غوښت په هغه ډول سره پر مخ لاړ نه، ښه فکر وکړئ، ماتې او ناکامي تل زموږ د بې کفایتۍ او نشتون مانا نه لري. کېدای شي موږ بېله لار غوره کړې وي.

**۶- که اړتیا وي له راتلونکې د وېرې په اړه له نورو مرسته وغواړئ**

پرته له دې چې پوه شو ډېر کله ورځې او شپې په اندېښنو او وېره کې تېروو، معمولاً موږ دومره زړور نه یو چې اعتراف وکړو چې موږ غیر معقوله وېره لرو. یوځل چې موږ د منلو جرئت ولرو، بیا موږ په ښکاره ډول هغه شیان درک کوو چې موږ ورسره مخ یو چې زموږ وېره لري کړي؛ خو دا مه هیروئ چې ځینې وختونه موږ ممکن د نورو مرستې ته اړتیا ولرو. موږ چې په ټولنه کې ژوند کولو ته اړتیا لرو او له هغه پرته ژوند نه شو کولای، ښکاره ده چې یو د بل مرستې ته اړتیا لرو او د مرستې غوښتل هېڅ غلط کار نه دی.

**۷- ښه پایله انځور کړئ**

د اوسمهال لپاره مثبت فکر کول ستونزمن دي، خو کولی شو چې د مطلوبې موخې او پایلې تر لاسه کولو لپاره ښه فکر وکړو! په ذهن کې ښه انځور جوړول تر خیالونو غوره دي، د انځور جوړونې لپاره باید تمرین وکړو، کوم واقعیتونه چې موږ یې غواړو باید په خپل ذهن کې په سم ډول انځور کړو، یا په بله وینا، تر بریا د مخه یې باید د لاسته راوړلو حس وکړو.

**۸- په دعا کولو کې غفلت مه کوئ**

څېړنو ښودلې چې معنوي فعالیتونه د ناروغیو او فزیکي ستونزو په درملنه کې مؤثر دي. له همدې امله، لمونځ او دعاګانې کولی شي له راتلونکې د وېرې کمولو کې مرسته وکړي. د هغو کسانو لپاره چې د مخه یې دا ډول شیان نه دي ازمویلي؛ کېناستل، تمرکز، دعا او د ژورې ساه اخیستل کیدای شي ورته بې ځایه خبره ښکاره شي، مګر پوهیږی چې په پټو سترګو سره د ژورې ساه اخیستل ډېر اغیز لري. دا ستاسو د نا آرامۍ په لرې کولو کې زیاته مرسته کوي.

**۹- دا خبره (تاسې کولی شئ) هر وخت په یاد لرئ**

موږ ټولو د ماتې خوړل تجربه کړې دي، زړورتیا په دې مانا نه ده چې هره لحظه د ماتې خوړلو احساس ونه کړو، زړورتیا یانې هغه څه چې موږ یې د سرته رسولو وړتیا لرو او له سرته رسولو یې نه وېرېږو. ممکن د زړورتیا تر ټولو مهمه ځانګړتیا دا وي چې حس کړو هېڅوک هم نه لرو؛ مګر کولی شو چې دا کار سرته ورسوو. موږ باید پخپله ځان ته جرئت او زړورتیا ورکړو! لومړی ګام زموږ پر ځان باور کول دي! له راتلونکې د وېرې پر مهال موږ باید پر ځان باور ولرو او داسې حس کړو چې موږ دا کار په ښه ډول تر سره کولی شو. هېڅوک له راتلونکې خبر نه دي چې څه به پېښیږي، له راتلونکې وېره د دې لامل نه کیږي چې وخت به حتمن خوشحاله در باندې تېر شي؛ باید قدم واخلو او مخته لاړ شو څو وګورو چې څه پېښېدونکي دي او ایا هغه په وېره ارزي؟ ښه دا ده چې خپله هڅه وکړو څو په دې لاره کې له غوره کړنلارو ګټه پورته کړو، تر ټولو مهمه دا چې په دې باور ولرو چې له سختو سره به مبارزه کوو او ځان به خپلې موخې ته رسوو.

# سیګار: په افغانستان کې د امریکا نږدې دوه نیم میلیارده ډالره بې ګټې لګول شوي

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا پر مرستو د څار اداري په خپل نوي راپور کې په افغانستان کې د متحده ایالتونو د مرسته شویو پیسو په لګښت نیوکه کړې ده.

سیګار د دغو مرستو شمېر ۷,۸ میلیارډه ډالر ښودلی، چې له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۹ میلادي کلونو د امریکا د ۱۰۹.۲۴ میلیاردو ډالرو مرستو له ډلې دي. چې د افغانستان د بیارغونې لپاره شوي دي.

دا پیسې د امریکا د دفاع وزارت، د امریکا پراختیایي ادارې، د امریکا بهرنۍ خصوصي پانګونې شرکت او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له‌خوا تمویل شوي دي.

سیګار په دغه راپور کې چې د امریکا کانګرېس ته یې وړاندې کړی، لیکلي چې د ۷,۸ میلیاردو مرسته شویو ډالرو څخه ۲,۴ میلیارده یې بې ګټې لګول شوي دي.

راپور زیاتوي، دا پیسې د ښوونځیو، روغتونونو، زندانونو، سړکونو، یو هوټل او د یو شمېر نظامي تاسیساتو د جوړولو لپاره لګول شوې، چې ترې هېڅ ګټه نه ده اخیستل شوې، یا ویجاړ شوي او یا هم له‌منځه تللي دي.

د سیګار په وینا، ډېری هغه ودانۍ یا هم تاسیسات جوړ شوي، چې ترې ګټه نه ده اخیستل شوې او همداسې پاتې شوي، په امریکایانو پورې اړه لري او د رغونې پر مهال یې دې ته پام نه دی شوی، چې ایا افغان لوری ورته اړتیا لري او کنه.

راپور زیاتوي، په ۲۰۰۸ز کال کې کانګرېس ته د سیګار له درې میاشتني راپور وروسته، له افغانستان سره د امنیت، بیارغونې او بشري برخه کې ۱۰۹,۲۴ میلیارد ډالره مرسته شوې ده.

خو د راپور پر بنسټ، د دغو مرستو اغېزمنتیا، د امریکا د دفاع وزارت، د امریکا پراختیایي ادارې، د بهرنۍ پانګونې شرکت او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له‌خوا د۷,۸ میلیارډ ډالرو له ارزونې معلومولای شو. په راپور کې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا پر مرستو د څار اداري د سرڅېړونکي جان سوپکو له قوله لیکل شوي، دا راپور ښیي چې متحده ایالتونو په‌ډېر شمېر پیسې یوه داسې هېواد ته ورکړې، چې نه شي کولای په سم ډول ترې ګټه واخلي.

جان سوپکو زیاتوي: «دا یو واقعیت دی چې له ډېرې پانګونې او تاسیساتو ګټه نه‌ده اخیستل شوې یا ویجاړې شوي او یا بې له ګټې اخېستو همداسې پرېښودل شوي.»

په ورته وخت کې د افغانستان حکومت بیا وایي، د دې لپاره چې د مرستو په لګښت کې روڼتیا وي او افغانانو ته یې ګټه ورسېږي، باید د افغان حکومت له لارې مصرف شي.

# پنټاګون: طالبان د ژمنو خلاف، له القاعدې او نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې پالي

امریکا په افغانستان کې د شل کلنې جګړې د پای ته رسېدو لپاره له طالبانو سره یو کال وړاندې د سولې هوکړه وکړه. د دې هوکړې یو ماده د القاعدې په ګډون له بهرنیو ترهګرو ډلو سره د اړیکو پرېکون دی.

خو د دې هوکړې یو لوری متحده ایالتونه ادعا کوي چې طالبانو د دې تړون ډېرې برخې، له دې شمېر له بهرنیو ترهګرو ډلو سره، په ځانګړې ډول له القاعده ډلې سره اړیکې نه دي پرې کړې، خو طالبان بیا دغه ادعا ردوي.

د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون د چنګاښ په یوولسمه کانګرېس ته د افغانستان د وضعیت په اړه په خپل راپور کې وویل، طالبانو لا هم له القاعده ډلې سره خپلې اړیکې نه دي پرې کړې.



پنټاګون ویلي وو: «په افغانستان کې د سولې له پرمختګونو سره سره، د هند په نیمه لویه وچه کې القاعده ډله په افغانستان کې له طالبانو سره د دوی په روزنه کې نږدې اړیکې لري.»

په راپور کې زیاته شوې، د هند په نیمه لویه وچه کې القاعده ډله د طالبانو د تیټې درجې له غړو سره د افغانستان حکومت د ضعیفولو لپاره همکاري کوي.

په ورته مهال د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له بندیزونو څخه د څارنې ډلې هم د سلواغې په ۱۵مه په خپل راپور کې د طالبانو او القاعده ډلې ترمنځ له اړیکو څخه پرده پورته کړه.

د دغه راپور پر بنسټ، له القاعده، داعش او یو شمېر نورو ډلو سره د طالبانو اړیکې پر خپل ځای دي او د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې د القاعدې شبکې د یو شمېر غړو؛ لکه په ابو محسن مصري مشهور حسام عبدالرووف او نورو وژل کېدل یې یو ثبوت دی. بلخوا د ملي امنیت عمومي رییس احمد ضیا سراج هم د سلواغې په ۳۰مه له یو شمېر خبریالانو سره په کتنه کې وویل، طالبان او القاعده ډله هم له یو او بل سره اړیکې لري.

هغه ویلي وو، نږدې ۳۰۰ القاعده وسله‌وال لا هم افغانستان کې شته چې له طالبانو سره ستراتېژیکې اړیکې لري. د ملي امنیت عمومي رییس دا هم ویلي وو، چې همدا اوس په افغانستان کې له شپږ تر لس زره بهرني وسله‌وال شته چې د ختیځ ترکستان، د تاجکستان اسلامي غورځنګ، د ازبېکستان اسلامي غورځنګ او د ختیځ چین ډلو تر نوم لاندې جګړه کوي، خو طالبانو بیا دغه تورونه رد کړې دي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي


**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۱مه | د ۲۰۲۱ د مارچ لومړۍ | ۶۸۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱۶ | ۲۱ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۵ | ۱۵ |
| ۲ | ۸ | ۷ | ۸ | ۹ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰٤ | لمر ختل ۰٦:۲۷ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰۴:۰۰ | ماښام ۰۵:٤۰ | ماخوستن ۰۷:۱۱

## نړۍ



د واشنګټن او ریاض نانډرۍ؛

# امریکا: د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان په ښکاره د جمال خاشقجي په وژنې کې لاس لري

۳

## اسراییل:

# ایران هڅه کوي چې اسراییلي تاسیسات او وګړي په نښه کړي



د اسراییل دفاع وزیر بیني ګانتز وایي، ډېر احتمال لري چې ایران به د هغې چاودنې تر شا وي، چې په روانه اونۍ کې د عمان په خلیج کې د اسراییلو په یوې بار وړونکې بېړۍ وشوه.

د ایم وي هیلیوس رای په نوم دا بېړۍ د سعودي له دمام بندره سینګاپور ته روانه وه، چې د فبروۍ په ۲۵مه پرې چاودنه وشوه. د اسراییلو دفاع وزیر بیني ګانتز د کان په نوم د یاد هېواد له یوې ټلوېزیوني شبکې سره په مرکې کې ویلي، ایران ته نږدې د دې بېړۍ موقعیت دا باور پیاوړی کوي، چې یاد هېواد د دې چاودنې تر شا لاس لري، خو په وینا یې، تر اوسه د دې موضوع تایید ته اړتیا ده.

تر دې مخکې ایران پر اسراییلو تور لګولی دی، چې د نومبر په میاشت کې یې د دغه هېواد د یوه اټومي ساینسپوه محسن فخري زاده په وژلو کې لاس درلود او د غچ اخیستو خبرداری یې ورکړی و.

د اسراییلو د دفاع وزیر بیني ګانتز ویلي، روښانه ده چې ایران د اسراییلي تاسیساتو او وګړو د هدف ګرځولو په لټه کې دی. کان ټلوېزیون د چارواکو له قوله راپور ورکړی، چې ایران له سرې کرښې اوښتی او د اسراییلو لوړپوړي دفاعي او سیاسي چارواکي د هغه څه پر وړاندې په مناسب ځواب غور کوي، چې اسراییل یې د ایران ځرګند برید ګڼي.

# رویټرز: په میانمار کې د پولیسو په ډزو کې اووه لاریونوال وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي

د راپورونو له مخې، د میانمار پولیسو پر لاریونوالو ډزې کړې، اووه کسان یې وژلي او ګڼ نور یې ټپیان کړي. رویټرز خبري اژانس راپور ورکړی، پولیسو وروسته له هغه په لاریونوالو مخامخ ډزې کړې، چې صوتي بمونو، اوښکو بهوونکو ګازونو او هوايي ډزو د هغوی د خورولو لپاره کار ورنه کړ. د میانمار په مرکزي ښار یانګون او ځینو نورو ښارونو کې د پولیسو له خوا دا زور زیاتی او په نتیجه کې یې د خلکو مرګ ژوبله تر ټولو خونړۍ او بې ساري بلل شوې ده. د یاد هېواد خلک له څو اونیو راهیسې د پوځي کودتا په غبرګون کې لاریونونه کوي او هر ځل د امنیتي ځواکونو له تُند غبرګون سره مخ کېږي. په میانمار کې دغه حالت د فبروري له لومړۍ راهیسې ګډوډ دی؛ ځکه پوځیانو کودتا وکړه او د حکومت مشره انګ سان سوچي او ګڼ نور دولتي چارواکي یې بندیان کړل. د پوځ مشرانو د انګ سان سوچي په مشرۍ ګوند په پارلماني ټاکنو کې په درغلیو تورن کړ او د کودتا پر مټ یې ټول واک په خپل لاس کې واخیست. په ورته وخت کې د امریکا حکومت بیا له دې کبله د میانمار پر حکومت او مشرانو بندیزونه لګولي، خو د میانمار پوځي چارواکو د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې له غوښتنو سربېره، د لاریونوالو ځپلو ته دوام ورکړی دی.

# طالبان: بدیل دیگر برای توافقنامهٔ دوحه محکوم به ناکامی خواهد بود



طالبان در یک خبرنامه می‌گویند که راه برقراری امنیت و ثبات در افغانستان، توافقنامهٔ دوحه است و هشدار می‌دهند که اگر در برابر آن برای بدیل دیگری تلاش شود، از همین اکنون محکوم به ناکامی خواهد بود.

در سالگرد امضای توافقنامه دوحه میان طالبان و امریکا در دوحه، طالبان آن را یک توافقنامهٔ تاریخی می‌گویند و تأکید می‌ورزند که بربنیاد این توافقنامه، نیروهای امریکایی باید از افغانستان بیرون شوند.


طالبان در این خبرنامه می‌گویند که به تمام محتویات توافقنامه متعهد است و از امریکا نیز می‌خواهد که آن را عملی کند. این گروه خواهان رهایی زندانیان دیگر طالبان و حذف نام‌های رهبرانش از فهرست سیاه سازمان ملل متحد نیز شده‌است. این توافقنامه در دهم ماه حوت سال گذشته میان امریکا و طالبان در دوران حکومت دونالد ترمپ، رییس‌جمهور امریکا، در دوحه امضاء شد.

بر بنیاد این توافقنامه، تمامی نیروهای خارجی باید تا اول ماه می سال روان میلادی، از افغانستان بیرون شوند. طالبان نیز بر بنیاد توافقنامهٔ دوحه، روابط شان را با گروه‌های تروریستی مانند القاعده، قطع خواهند کرد، خشونت‌ها را کاهش دهند و نیز گفت‌وگوها را با حکومت افغانستان، آغاز کند.

اما اخیراً، ادارهٔ جوبایدن، رئیس‌جمهور امریکا اعلام کرد که این توافقنامه را، بازنگری خواهند کرد. بر بنیاد این توافقنامه، امریکا نیروهایش را در افغانستان به ۲ هزار و ۲۰۰ تن، کاهش داده‌است و نیز حدود ده هزار سرباز ناتو در کشور، حضور دارند.


## ژونـــد

# د ژوند اصلي ارزښتونه مو معلوم کړئ!



که مو د ژوند اصلي ارزښتونه معلوم کړو، ژوند کول، پرېکړه کول او ټاکنه به راته ډېره اسانه او ساده شي. نو که پوه شو چې د ژوند اصلي ارزښتونه مو کوم دي او مخکې له مخکې مو تشخیص کړي او معلوم کړي وي، نو په دې کار سره به مو یو چارچوب جوړ کړی وي او د چارچوب په منځ کې بیا ټاکنه تر هغه ډېره اسانه ده چې هېڅ چارچوب ونه لرو او نه پوهېږو چې د څه پر اساس ټاکنه او پرېکړه وکړو. د ژوند په ځینو شېبو کې دې پایلې ته رسېږو چې پر ناسم مسیر روان یو؛ ځکه هغه کارونه چې تر سره کوو یې، په اړه یې هېڅ حس نه لرو او داسې احساسوو، کوم کارونه چې تر سره کوو یې د مجبورۍ له مخې دي او کله چې ژوند او د ژوند چارې یوه مجبوري شي، بیا نو د خوند څرک نه وي پکې. د بېلګې په توګه، که مو دنده په زړه پورې نه وي، د ورځې په اوږدو کې بیا بیا ساعت ته ګورو، په دې تمه وو چې کله به د رخصتۍ وخت راسېږي چې له دفتر ووځو او که په کار هم بوخت وو، خوند نه شو ترې اخیستی.

# د سامسُنګ پیاوړی او ارزان بیه ځیرک موبایل



سامسُنګ کمپنۍ خپل یو بل پیاوړی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل ګلکسي ایف۶۲ نومول شوی دی. دا د سامسُنګ کمپنۍ دویم ځیرک موبایل دی چې ۷۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې پیاوړې بېټرۍ لري او له ۲۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل به تر ټولو وړاندې هندوستان کې خرڅلاو ته وړاندې شي. ګلکسي ایف۶۲ کې ٦٫۷ انچه ستره انفېنېټي اولېډ پلس ډوله مخپاڼه ورکړل شوې ده، چې ایف ایچ ډي پلس ریزلوشن لري. دغه ځیرک موبایل کې خپله د سامسُنګ کمپنۍ اګزینوس۹۸۲۵ ډوله پروسېسر کارول شوی دی. دا هماغه پروسېسر دی چې له دې وړاندې ګلکسي نوټ۱۰ کې هم کارول شوی و. ګلکسي ایف۶۲ به ٦ او ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا سره وړاندې شي، چې کاروونکي د میموري کارت په کارولو سره دغه وړتیا تر دې هم لوړولی شي. د دغه ځیرک موبایل ٦ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ ګیګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۳۳۰ امریکایي ډالره او د ۸ ګیګابایټ رم او۱۲۸ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۳۵۸ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

